# عبدالمالک فدا د خدائي خدمتګار تحریک نمائنده شاعر

# Abdul Malik Fida,The Prominent poet of Khudaye Khidmatgar Movement

Dr Noor Muhammad Danish Bettani*

**Abstract**

Khudai Khidmatgar Movement has a prominent place in awakening Pashtun vision of future. Famous for non-violence political activism, this movement absorbed common as well as literary Pashtun in the way of freedom against the British. Abdul Malik Fida is one of those literary Pashto poets who, not only played active role in the Movement, but also impacted the Movement and the common Pashtun with his poetry. This paper attempts to examine his poetic contributions to the Pashto literature.

Key words: Khudai Khidmatgar, Movement, Independence, history, revolution, Literature,Pukhtoon,

که مونږ د دنیا په تاریخ باندې نظر وزغلوو نو د دې تاریخ په هره مرحله بنیادم د خپلې آزادۍ د پاره څه نه څه مبارزه ،مجادله یا کم از کم احتجاج کړے دے . بنیادم ګڼي چې آزادي د هغه حق دے او چې چا هم ددۀ په آزادۍ کښې مداخلت کړے دے ، ده په تاریخ کښې هغه نه دے معاف کړے . بعضې وخت د آزادۍ دغو هڅو داسې لوي انقلابونه رازېږولي دي چې د دنیا د تاریخ لارې ئې بدلې کړې دي .او تر څو چې دا دنیا ودانه وي نو دغه انقلابونه به دې د تاریخ په تندي لکه د غمو ځلېږي . په دیو کښې د تاریخ د نامعلومو دورو نه راواخله تردې دمه اسلامي انقلاب ، د فرانس انقلاب او د روس انقلاب زیات مهم حېثیت او اهمیت لري . په لنډه دوره کښې چې د براعظمګي په زمکه دهند خلقو چې د فېرنګي ظلم ،جبر ، استبداد اوغلامۍ خلاف کومه ستره مبارزه کړې وه ، هغه به هم تاریخ هېره نه کړے شي .

په دغه مبارزه کښې د هند د نورو قومونو سره خوا په خوا پښتنو هم خپله برخه جنګ په ډېر ستر او معتبر انداز کښې د مختلفو محاذونو نه خپل کړے او خور کړے وۀ.که یو خوا د ترنګزو حاجي

---

* Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar

صاحب د انګرېز خلاف د خپلو مجاهدينو سره وسله اوچته کړې وه . نو بل خوا خان عبدالغفارخان (باچاخان) هم دعدم تشدد د محاذ نه د ازادۍ په لاړ پښتانه په ځان پسې روان کړي وو. هر څو که د باچاخان دغه تحريک ورومبے انجمن اصلاح الافاغنه په نوم د کال ۱۹۲۸ او ۲۹ په دوره کښې په يو بېل او بدل نوم تود وۀ . نو په کال ۱۹۳۰ کښې د خدائي خدمتګار تحريک په نوم ښېرته منظم او راپورته شو . د خدائي خدمتګار تحريک په دې قافله کښې که يو خوا عامو پښتنو د کوټلي اخلاص مظاهره اوکړه نو بل خوا شاعرانو اديبانوهم د دې مېدان نه د خپلو تودو او سپېڅلو جذباتو پښتانۀ اشعار راپورته کړل تر دې چې خدائي خدمتګار تحريک په يو وخت د سياسي تحريک سره سره ادبي تحريک هم شو .او دې تحريک چې دپښتون د سياست سره سره په پښتو ادب کوم اثرات مرتب کړل هغه باقاعده د ادب د تاريخ يو نه هېرېدونکے باب جوړ شوے دے .خان عبدلغفارخان د خدائي خدمتګار تحريک په باره کښې وائي :

" مونږ چې د لاهور نه واپس شو نو په اتمانزو کښې مو لويه جلسه وکړه، زۀ په جلسه کښې راپاڅېدم او خلقو ته مې اووې چې تاسو خو اودۀ يئ او سړي څۀ کوئ چې د هندوانو ښځې هم رابېدارې شوې او هغوي سړو سره يو ځاے د ملک د ازادۍ دپاره ملا تړلې ده او جدوجهد کوي. تاسو خو لږ دې نمرخاتۀ ته وګورئ څومره لوے سېلاب راروان دے او سېلابونه همېشه اودۀ قومونه وړي، پاڅئ ويښ شئ او ملا وتړئ، تاسو خو وګورئ، پېرنګيان وائي چې هندوستان مونږ په توره فتح کړے دے، دا زمونږ دے او مونږ به پرې حکومت کوو او ګټه وټه ئې زمونږ ده، هندوان پېرنګي ته وائي چې تاسې مونږ په زوره نيولي يو، اوس چې مونږ پوهه شو او متفق شو خپل وطن درنه اخلو، دا زمونږ وطن دے اوس به پرې مونږ حکومت کوو، تاسې د دې نه خبر يئ که نه؟ زۀ مو خبروم چې خبر شئ، د هندوانو او پېرنګيانو په دې جنګ دے چې پېرنګے وائي چې هندوستان کښې به بادشاهي مونږ کوو او هندوان وائي چې دلته به بادشاهي مونږ کوو او مسلمانان د غفلت په خوب اودۀ دي، نو اے پښتنو ورونړو زۀ ستاسو نه پوښتنه کوم چې تاسو به څۀ کوئ، ناست به يئ دواړو ته به دعا کوئ او د غلامۍ او پټتي توب ژوند به تېروئ. (مونږ چې هلکان وو، غوزان به مو کول، لويه دائره به مو راښکله او په هغې کښې به مو غوزان کښېښنودل، ګټه بائېلات به د دوو لوبغاړو وۀ، يو درېم سړي به دواړو له غوزان راټولولو هغه

سرې ته به ئې پټنې وئيلو ، چې چا به غوزان وګټل نو هغه ته به ئې دوه غوزان د ګټې ورکول) نو اې پښتنو تاسې ته وايم دا د پټنې توب ژوند خوښوئ او که تاسو هم ځان د دې وطن مالکان ګڼئ؟ نو پاڅئ او ملا وتړئ او دا خپل ملک خپل کړئ. جلسه په ډېر جوش و خروش ختمه شوه او په پښتنو زما د تقرير ډېر ښۀ اثر وشو ".۱

د پښتو د غزل بابا امير حمزه خان شينواري په دې حقله داسې ليکي:

" د پښتو ادب په څهره کښې سرخ پوش ادب هم څه کم ښائست نه د ے پېدا کړ ے . د فېرنګي جابر حکومت په وجه چې د روه په پښتون اولس کښې کوم رد عمل پېدا شو ے وۀ . او هغه د باچاخان په قيادت کښې د هغه برخلاف کوم جهاد کړ ے وۀ ، هغه د پښتو ادب په عبادت کښې د يوې اهمې ردې حېثيت پېدا کړ ے د ے .پښتو ادب ته ئې د نوو نوو تشبيهاتو او استعاراتو بخښنه کړې ده . ښه ښه شاعران او اديبان ئې پېدا کړي دي "۲

په دغو شاعرانو اديبانو کښې يوه نامه د فدا عبدالمالک يا عبدالمالک فدا هم ده . چا چې نه يوائې دا چې په خپل تن بدن د آزادۍ په دغه تحريک کښې پوره پوره برخه واخسته بلکې خپله سپېځلې او کوټلې ئې هم د پښتنو د آزادۍ د سره قربان کړه . ښاغلے مصطفٰی کمال د عبدالمالک فدا په بابله پخپله يوه مقاله کښې ليکي

" هسې خو د وطن د آزادۍ د جنګ د خوش نو بلبلانو ټولې نغمې خورې دي ولې بيا هم عبدالمالک فدا د هغو څو کسانو نه د ے څوک چې مونږ په عامه پېمانه نۀ شو تللے ـ د دۀ جذبه او صداقت په خپل ځا ے ، ولې ددۀ فن هم دومره قوي د ے چې بنده نن هم وائي چې دا زه يم او زما د زړۀ آواز د ے . " ۳

عبدالمالک فدا په پړانګ ياسين خېلو کښې په کال ۱۸۹۷ کښې د عبدالجبارکره پېدا شو . تعليم ئې نه وۀ خو وروستو ئې په خپل ذاتي کوشش ليکل لوستل زده کړل ـ محترم همېش خليل په خپل کتاب پښتانۀ شعراء کښې د عبدالمالک فدا انجمن اصلاح الافاغنه او خدائي خدمتګار تحريک سره د تړلې او ګنډلې رشتې په حقله ليکي :

" د آزادۍ د تحريک دا ملګر ے چې د خپل عزم د پاره کله به د زندان په تورو تيارو کښې پروت وۀ ، کله به ئې کور تالـه وۀ او کله به د جسماني او ذهني اذيتونو ښکار وۀ ، ولې د وطن د آزادۍ د پاره دا ټول آزمائشونه ئې په ډېر

صبر او قناعت اوزغمل او د دغه شان آزادي خواهو د قربانۍ نتيجه وه چې په ملک د آزادۍ نمر رابره شو. " ۴

يو انسان وۀ ، مسلمان وۀ ،پښتون وۀ ، او پـه تېره تېره د حساس زړۀ او طبيعت خاوند وۀ ـ دې سره سره هغه د کوټلي انداز بيان يو ډېر ښکلے او سپېڅلے شاعر هم وۀ.ـ بيا د يو انسان ، مسلمان ،پښتون ، حساس بنيادم او شاعر چې څومره ذمه وارۍ او مجبورۍ وي، هغه هغۀ تر ډېره بلکې تر مرګه په ډېر صداقت عبدالمالک فدا سره پاللې او روزلې دي . خپل ژوند او فن ئې پښتون اولس ته ډالۍ کړے دے . د فېرنګي د غلامۍ په زمکه چې د هغۀ څه فرائض وو . او هغۀ ته د ژوند کوم مقصد په وړاندې پروت وۀ ، هغه سره د خپلې بې تعليمۍ د هغې په مطلب او معنٰي رسېدلے وۀ . په دې بابله که د هغه د نظم "پېژندنه " د څه برخې حواله ورکړم نو بې ځايه به نه وي .

زه مســـلمان يـــم خـــدا ے رســـول او اســـلام پېژنمـــه
زو ے د پښـــتون يـــم ،دپښـــتو ننـــګ ونـــام پېژنمـــه

زه پـــه دې خـــاوره لـــوبېـــــدلے لغړېدلــــے يمـــه
پـــه پښـــتو ، پولـــو، غورځېـــدلے، ګرځېـــدلے يمـــه

د ســـوات،کابل ، تيـــراه ، اوبـــو کښـــې لمبېـــدلے يمـــه
پـــه ســـمه ، غـــر اوچتـــې ســـترګې اوســـېدلے يمـــه

پـــــه دې بـــــه مـــــرم زه د وطـــــن احتـــــرام پېژنمـــــه
زو ے د پښـــتون يـــم ،دپښـــتو ننـــګ ونـــام پېژنمـــه

مـــونږ دې دښـــمن تـــه يـــو د پښـــو نـــه پـــه اوم تـــار تړلـــي
زمـــونږ پـــه وينـــو دې ســـتا خلـــه ، شـــونډې رخســـارتړلي

څـــرمن ،هـــډوکي دې زمـــا دي پـــه اغيـــار تړلـــي
مـــا ســـتا دلاســـه دي خپـــل رب تـــه پـــه باربـــار ژړلـــي

دام دې راغونډ کـړه اوس دې لـومې د دام پېژنمـه
زوے د پښتون يم ،دپښتو ننګ ونام پېژنمـه ۵

دغسې هغۀ هاغه پوهه ،کومه چې هغۀ په خپلوفطري صلاحيتونو حاصله کړې وه نورو ته رسول هم خپل فرض ګڼل. او دا ځکه چې هغه يو انقلابي وۀ او انقلابيان که يو خوا په مبارزو کښې بوخت وۀ نو بل خوا د انقلاب په لور د خپلې قافلې دغړو زياتولو زړه پورې هڅې هم کوي. هغه شاعر وۀ. د معاشرې او بيا دهغه وخت د حالاتو ټول ادراک ورته حاصل وو. ښاغلے مصطفٰی کمال ليکي.

"د يو معاشرتي نباض په حېث هغه د خپل پښتون قام په رنځ پوهه هم وۀ او د دغې رنځ علاج ورته معلوم هم وۀ ـ د کوم په حقله چې پښتنو ته خبردارے ورکول هغۀ او د هغۀ د تحريک نورو شاعرانو ملګرو د خپلې شاعرۍ مهمه موضوع ګرځولې وه ـ" ۶

عبدالمالک فدا په خپل يو نظم " پښتون ته خطاب " کښې د پښتنو د شعور راپارولو د پاره څه داسې انداز بيان خپلوي.

پېرنګـي دام ايښے دے ځـان لـه کـوي ښـکار پښـتونه
سـاتـې تـنـزري د دنيـا پـه هـر ديـار پښـتونـه

څـوک چـې خپـل قـام بېـداروي ،لـومې د دام وشـلوي
ښـکاري اول پـه هغـه کـس کـوي ګـوذار پښـتونه

د سـر،نواب،خان بـادرۍ خطـاب مونـدے شـي هلـه
چـې فېرنګـي تـه شـي ثابـت قـوي غـدار پښـتونه

نمـک خـوارۀ د پېرنګـي د خپـل اقـا پـه حکـم
سـپکوي تاتـه سـتا د ټـول عمـر غـم خـوار پښـتونه ۷

دغسې دغه آواز د پښتون د زړۀ آواز وۀ او ټولو پښتنو په دغه دوره کښې زړونه په خدائي خدمتګار تحريک پورې تړلي وو ـ کوم خلق چې د دغه تحريک سره نېغ په نېغه وابسته وو ، هغوي غوښتل چې هر پښتون دې هم د هغوي په څېر د آزادۍ پتنګان شي او بيا د دغې احساس

اظهار دې هم هغسې اوکړي څنګه چې دوي په خپله کولو. د پښتون د يووالي او اتفاق په بابله چې د خدائي خدمتګار تحريک مشرانو او کارکنانو څومره هڅې کولې ، هم هاغه هڅې د دغې تحريک د شاعرانو په شاعرۍ کښې هم په هاغه زور او شدت سره ځانونه ښائي. او دا ځکه چې د يو قام د اتفاق او اتحاد نه بغېر نه تحريکونه کامیابېدے شي او نه انقلابونه راتلے شي ، ځکه عبدالمالک فدا وائي.

ببل ببل نه يو زمونږ قام او وطن يو دے
که روحونه په کښې ببل ببل دي تن يو دے

په دې زمکه زرغونېږيو ، خاورې کېږو
د کرلو د رودلو څښتن يو دے ۸

بيا د قام پرستۍ په دغه سفر کښې هغۀ که څه غم کړے دے نو د خپل قام ئې کړے دے او که اوړے دے نو هم دخپل قام فکر اوړے دے. د خدائي خدمتګار تحريک غړو هر څه بائيلل ، تر دې چې سر ئې ببلو خو قام ئې نه بائيلو. د قام مينه او د وطن محبت د هغوي داسې سرمايه وه چې په يوه وجه او يوه مجبورۍ ئې نه داو کوله. د دغې جذبې د اظهار د پاره عبدالمالک فدا د "يو والي پېغام " غوندې نظمونه وئيلي ، ليکلي او وړاندے کړي دي. د نظم دا برخه د حوالې په ډول د رانقل کولو وړ ده.

که مې په ګټو باندې اولي پښتون ورور دے زما
په غرۀ او سمه هر يو خپل د سترګو تور دے زما

د پښتون خاوره چې کوم ځاے ده هغه کور دے زما
څوک چې پښتون لوټوي هغه سړے چور دے زما

دښمنان نه پرېږدم وطن کښې د يو ګام د پاره
زه پېدا شوے يم د ملک د ننګ ونام د پاره ۹

د خدائي خدمتګارو سياست د شلمې صدۍ سياست وۀ چې د جمهوريت په بنيادونو ولاړ وۀ او د دغې سياست عمارت هم يوه اکائي لري او هغه دے ووټ. عبدالمالک فدا د خدائي خدمتګار

په پلېټ فارم ولاړ د جمهوري طرز فکر او عوامي شعور نمائنده وۀ ـ پخپل يو نظم " ووټره " کښې وائي ـ

ووټ امانت دے د وطن ، اوسه اوښيار ووټره
چې خيانت له تانه نۀ شي ،ايماندار ووټره ۱۰

دغسې د خدائي خدمتګار د نمائنده شاعر په حېث هغه په خپل يو نظم " خدائي خدمتګار " کښې نه صرف د خدائي خدمتګار پور ه منشوراو آئين وړاندې کوي بلکې ددې تحريک د نمائندګي او ترجماني حق ادا کوي ، د کومې حوالې نه پس چې زما په خيال نور څه وئيل نمر ته ډيوه ښودل دي ـ

د ځان څوکيدار او د رب تابعدار شه
خدائي خدمتګار، خدائي خدمتګار

د لاس او د خلې د فساد ا و ضررنه
د کور دښمنۍ ، تربګنۍ د شررنه ۱۱

## حوالې


۱. خان، عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد ،مخونه، **۳۵۴، ۳۵۵**

۲. شینواري حمزه،"سریزه مشموله" شان " ( د مهدي باچا د افسانو مجموعه) ، پېښور،اداره اشاعت سرحد ، ۱۹۶۵ مخ ټ او ځ.

۳. کمال، مصطفیٰ ، د عبدالمالک فدا شاعري ، ناچاپه مقاله،مخ ۲

۴.همېش خلیل ،پښتانهٔ لیکوال ، پېښور، یونیورسټي پبلشر ، ۲۰۱۰ ،مخ ۱۱۹

۵. فدا ، عبدالمالک ، دیوان فدا ،پېښور ، زیب آرټ پبلشر ،۲۰۰۴ ، مخ ۴۲

. کمال، مصطفیٰ ، مخ ۶

۷. فدا ، عبدالمالک ، دیوان فدا ،پېښور ، مخ. ۴۶

۸. هم دغه مخ ۵۷

۹. هم دغه مخ ۶۵،۶۶

۱۰. هم دغه مخ ۷۳

۱۱.هم دغه مخ ۱۴۰،۱۴۱